مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالنافع همت

۲۰۲۶/۱۱/۱۰

تیاره خوبونه او رانه تعبیرونه

په خوب کي فیسبوک لیدل:

کاشف الاسرار والاشرار شیخ جورج ټرمپ یار وایي چي په خوب کي فیسبوک لیدل دومره ډېري ماناوي لري چي شمېر یې د افغانستان په سیاسي نظام کي تر مشاورینو هم اوړي. که د مالیې وزرات یو لوړپوړی چارواکی خوب ویني چي خپل یوه دوست ته یې (ریکویسټ) استولی او هغه رد کړی، نو تعبیر یې دا دی چي ولسي جرګه به د نوي مالي کال بودیجه رد کړي، نو ښه به دا وي چي د ولسي جرګي یو شمېر زورورو او ښکرورو غړو ته پروژې ورکړي، که داسي و نه کړي، نو وزیر صاحب به صلب صلاحیت او لکه جنګي چرګ ښکي به یې ور باد باد کړي.
که د ولسي جرګي یو وکیل خوب ویني چي د خپل بهرني سفر یو عکس یې پوسټ کړی، خو هیڅوا هم کامنټ یا لایک نه دی ورکړی، نو دا تعبیر لري چي د ولسي جرګي په راتلونکو انتخاباتو کي به ناکام سي، خو که د انتخاباتو کمیسیون له کوم غړي سره دوستي او خپلوي وکړي امکان لري چي بریالی سي او ان دا چي په همدې وکالت کي مړ سي، خو که له کانکریټي دېوالونو راووزي، نو امکان لري چي په همدې وکالت کي یې د شهادت لوړه مرتبه هم په نصیب سي.
که یو جهادي رهبر یا قوماندان خوب ویني چي د فیسبوک له لاري له یوې ښکلې نجلۍ سره چټ کوي او په دې وخت کي نابېره بربېنډا ولاړه سي، نو تعبیر یې دا دی چي حکومت ته یې د ټېرو لسو کالو د بربېنډا محصول نه دی ورکړي، نو ښه به دا وي چي ژر تر ژره محصول تحویل کړي، که داسي و نه کړي، نو په دې دنیا کي به په رسنیو کي رسوا سي او په اخرت کي به یې د جنت حوري له نصیبه ووزي.
که د انتخاباتو کمیسیون یو غړی خوب ویني چي په زرګونو خلکو ریکویسټونه ورلېږلي، نو دا مانا لري چي د ولسي جرګي د راتلونکو انتخاباتو پر مهال به زرګونه کاندیدان مراجعه ورته وکړي. که د هغوی ریکویسټونه یې ومنل، ایمان یې په ترخه کي کښېښود او له هغوی سره یې په درغلیو کي مرسته وکړه، نو په ملیونونو ډالر به پیدا کړي، بیا نو کولای سي لکه تیمورشاه ژمی په پېښور او دوبی په کابل کي تېر کړي. دغه ډول کولای سي چي د ځلور ودونو تر څنګ لسګونه ګرل فریندې هم ولري.
که د ولایتي شورا یوه ښځینه وکیله خوب ویني چي له خپلې پانې څخه د خلکو کامنټونه لیري کوي، نو تعبیر یې دا دی چي خپل پخوانی مېړه به له کوره وشړي او پر ځای به یې له یوه نوی ځوان، یاني بیخي صفر کیلومیټر هلک سره واده وکړي. که د سولې شورا یو نارینه غړی خوب ویني چي د نجلۍ په نوم آی ډي یې جوړه کړي او خورا ډېرو ځوانانو ریکویسټونه ورلېږلي، نو دا مانا لري چي سوله هسي یو فریب دی او جګړه به نور هم زور واخلي.
کاشف الاسرار والاشرار شیخ جورج ټرمپ یار وایي چي که چا په خوب کي د فیسبوک له لاري هر استخباراتي چینل ته ډېر ښکنځل کول، نو تعبیر یې دا دی چي دی مبارک خپله د همدې چینل استازی او ټرلی چرګ دی. شیخ الفساد مولانا هیرامندوي صاحب فرمایي چي که چا خوب لیده چي په فیسبوک کي یو چا ته ښکنځل کوي او هغه هم ورته ښکنځل ورته کوي، نو دا مانا لري چي امریکایان، ګاونډیان او وسله وال مخالفین به خپله یوې موافقې ته سره ورسېږي، د سولې شورا ته هیڅ اړتیا نسته، نو ښه به دا وي چي د سولې همدا مبارک غړی استعفا وکړي او په کور کي پر ارامه خپل چټ ته دوام ورکړي، په کور کي هم ټول پخواني امتیازات ور رسېږي.
که یو معین خوب ویني چي په دالبز کي مراجعین قطار قطار ولاړ وي او دی مبارک له یوې ښکلې نجلۍ سره مینه ناک چټ کوي، نو مانا یې دا ده چي ډېر ژر به ځان ته د ښایسته سالارۍ پر بنسټ یوه ښایسته پېغله نجلۍ مشاوره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وټاکي. که همدا معین صاحب خوب لیده چې له نجلۍ سره د فیسبوک له لارې ویډیویي خبري کوي، نو تعبیر یې دا دی چې همدا ګلالۍ مشاوره به په بهرنیو سفرونو کې هم ورسره ملګري وي. که یو رئیس خوب ویني چې د فیسبوک پاس وړې ځني هېر سوی، نو تعبیر یې دا دی چې ډېر زوړ سوی، فکر یې په یوویشتمه پېړۍ کې هم انالاګ او په ډیجیټل زمانه کې د ژوند کولو استعداد نه لري. سکرټر یې څو څو واړه د مکتوبونو په منځ کې بانکي چیکونه پټ ورته اینۍ او په ده مبارک یې لاسلیک کړي دی، بس دغه یې پرده ده چې استعفا ورکړي او خپله څوکۍ ځوانانو ته پرېږدي، که داسې و نه کړي ، نو ډېر ژر به لکه ړوند موږک د پنیر په حرص کې په تلکه بند سي.
که یو قاضي خوب ویني چې ډېر چټې او بې مانا پوستې یې کړی او بیا یې هم په زرګونو کامنټونه او لایکونه یې اخیستي، نو خولۍ یې په غوړو کې ده. په راتلونکو څو میاشتو کې به د رشوت له لارې دومره ډالر پیدا کړي چې د وښو په ډول یې خره ته ورواچوي، نو خر به مور سي خو اخور به بیا هم له ډالرو ډک پاته وي. که د ملي امنیت یو رئیس خوب ویني چې چا یې (آی ډي) هک کړې، نو تعبیر یې دا دی چې یوه ګاونډي هیواد نوی تروریستي بریډ پلان کړی او ډېر ژر به د دې ډول اواز واوري. که د پوهنتون یو استاد خوب ویني چې لوڅ او مبتذل عکسونه او ویډیوګاني لایک کوي، نو ډېر بد تعبیر لري. علامه عشق چې صاحب فرمایي چې څو ورځې وروسته به په فیسبوک کې د نوموړي استاد داسې ویډیو خپره سي چې له یوې ښکلې محصلې نجلۍ سره په ډیپارټمنټ کې عشق بازي کوي او په بکګراونډ کې به د اردو دا سندره هم اورېدل کېږي: ((بند کمرې مي پیار کرینګې – پیار پیار پیار بې شمار کرینګې)).
که یو والي خوب ویني چې چا یې کامنټ پاک کړی، نو تعبیر یې دا دی چې د پسرلي په راتلو سره به د دولت وسله وال مخالفین د ولایت ټولي ولسوالۍ ونیسي، خو دی مبارک به د خپلې ځیرکتیا او زړه ورتیا له امله د ولایت په مرکز کې روغ رمټ پاته وي او ولسمشر ته به د ولایت د امن په اړه د خیروخیریت راپورونه ورکوي. که کوم ښاروال خوب ویني چې خپل یوه دوست (انفرینډ) کړی، نو دا مانا لري چې ډېر ژر به یې د رشوت او اختلاص دوسیه څارنوالۍ ته ولاړه سي، خو که د قضایي او عدلي ارګانونو کولمې ورغوړي کړي، نو د پخوا په شان به بیرته سپین چرګ پاته سي. که د ولسمشر یو مشاور خوب ویني چې یو چا ته پرله پسې مسیجونه استوي، خو هغه ځواب نه ورکوي، نو تعبیر یې دا دی چې په راتلونکو پاته دریو کالو کې به هم د ولسمشر مخ و نه ویني، خو که په یوه ګمرک کې کمیشن کاري شروع کړي، نو تر دې به زر واره ډېري پیسې وګټي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ